هفته نامه
# تحصیلات عالی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: info.pr@mohe.gov.af

شماره یکصد و پنجاه دوم- سال هشتم- دلو -۱۳۹۸ ه. ش

## پروسه نظارت و ارزیابی برنامه های فوق لیسانس پوهنتون ها آغاز می شود



## د ۳۸ تحصیلي ځانګو د نصاب جوړونې وروستي پړاو اړوند ورکشاپ جوړ شو



# د ۳۸ تحصیلي څانګو د نصاب جوړوني وروستي پړاو اړوند ورکشاپ جوړ شو

د ۳۸ تحصیلي څانګو د نصابونو د پای ته رسوني په موخه پنځه ورځنی ورکشاپ چې انجنیري، ښووني او روزنې او کرنې برخو ته شاملېږي، نن ورځ لوړو زده کړو وزارت کې پیل شو.



په دغه ورکشاپ کې د یادو شویو نصابونو د بیا کتنې شاملو کلسټرونو رئیسانو، مرستیالانو او منشیانو ګډون کړی و تر څو د نصابونو په مندرجو متونو، د فارمټونو په یو شان کولو، د مندرجاتو د فهرست تیارولو، او د هغوی په طرحه او ډیزائن باندې بشپړ مرور وکړي او چاپ او ګټې اخیستنې ته یې چمتو کړي.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي په دغه پروګرام کې له ګډون کوونکو استادانو څخه د مننې په وړاندې کولو سره له هغوی وغوښتل چې د یادو شویو نصابونو پای ته رسوني په مرحله کې له زیاتې ځیرکتیا څخه کار واخلي.



پوهنمل بالاکرزي د لوړو زده کړو وزارت د هڅو او د تحصیلي نصابونو په بیا کتنې کې د شاملو استادانو له زحمتونو څخه په یادولو سره وویل چې د نصاب جوړولو بهیر یو دوامداره کار دی او تاثیرات به یې په اوږدمهاله توګه محسوس شي.

نوموړي د پوهنتونو له استادانو او مسوولینو وغوښتل چې د نویو نصابونو په تړاو محصیلنو ته پوهاوی ورکړي او د تدریس او زده کړې په ښه والي کې د هغوی د تاثیراتو په اړه او دا چې تر کومه حده د هغوی اړتیاوو ته ځواب ویونکي دي بحثونه په لاره واچوي.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د نصاب د بیا کتنې په ورکشاپونو کې د اړوندو ادارو په کار پوهو او مسلکي غړو په برخه اخیستلو ټینګار وکړ او د لوړو زده کړو وزارت د علمي پروګرامونو د پراختیا ریاست ته یې لارښوونه وکړه چې د اړوندو ادارو د ماهرو غړو یو ډیټابیس چمتو کړي تر څو په نورو پروګرامونو کې له هغه څخه ګټه پورته کړي.

په پای کې د لوړو زده کړو وزارت د علمي برنامو د پراختیا رئیس پوهنمل خواجه زبیر احمد صدیقي د نصاب د بیا کتنې په برخه کې په روان کال کې د تر سره شویو کارونو په اړوند معلومات وړاندې کړل او ویې ویل، چې په دغه ورکشاپ کې به د انجنیرۍ په ۲۰ څانګو، د ښوونې او روزنې په ۸ څانګو او د کرنې په ۱۰ څانګو باندې چې مخکې بازنګري شوې وې، یو بشپړه بیا کتنه صورت ونیسي او دغه نصابونه به چاپ ته آماده شي.

د صدیقي په وینا د ۱۳۹۸ کال له پیله په ۷٤ تحصیلي څانګو باندې کار تر سره شوی دی چې د حقوقو، سیاسي علومو او شرعیاتو د ۵ څانګو، نصاب تکمیل او چاپ شوی دی، پاتې شوې دغه نصابونه په راتلونکي تحصیلي کال کې په خصوصي او دولتي پوهنتونو کې پلي شي.

# پروسه نظارت و ارزیابی برنامه های فوق لیسانس پوهنتون ها آغاز می شود

پروسه نظارت و ارزیابی برنامه های فوق لیسانس پوهنتون های خصوصی و دولتی به زودی آغاز می گردد.

به همین هدف ورکشاپ آگاهی دهی از چگونگی آغاز روند ارزیابی برنامه های فوق لیسانس (ماستری و دکتورا) در نهاد های تحصیلی، به اشتراک مسوولان مقاطع ماستری و دکتورا نهاد های تحصیلات عالی دولتی و خصوصی در وزارت تحصیلات عالی دایر گردید.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی طی صحبتی در این ورکشاپ گفت: "در حال حاضر ۳۸ نهاد دولتی و ۱۳۱ نهاد خصوصی در کشور فعال است که از جمله ۴۴ برنامه فوق لیسانس در نهاد های دولتی و ۳۳ برنامه فوق لیسانس در نهاد های خصوصی ایجاد گردیده است" موصوف اما گفت که متاسفانه آنچنانی که لازم است به کیفیت این برنامه ها توجه لازم صورت نگرفته است.

پوهنمل بالاکرزی افزود: "روی این ملحوظ در صدد این شدیم تا یک هسته قوی نظارتی داشته باشیم که خوشبختانه در نتیجه ریاست نظارت و ارزیابی در چوکات وزارت تحصیلات عالی منظور و ایجاد شد."

سرپرست وزارت تحصیلات عالی ایجاد این ریاست را یک نوید خوش به آینده و یک مبدا بنیادی درعرصه تحصیلات عالی کشور خوانده افزود که ریاست نظارت و ارزیابی امور اکادمیک از نزدیک با پوهنتون های دولتی و خصوصی کار نموده و در کنار رهنمایی، آنان را متوجه کمی ها و کاستی های شان و همچنان تطبیق اسناد تقنینی موجود خواهند ساخت.



وی مواردی چون تعداد قابل قبول استادان دارای مدرک دکتورا مطابق مقرره موجود، نشر مقالات این استادان در ژورنال های بین المللی و توانمندی آنان در جهت رهنمایی تیزس های محصلان دوره فوق لیسانس را از موضوعات دیگری خواند که در برنامه های فوق لیسانس نهاد های تحصیلی باید به آن توجه صورت گیرد.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی گفت: "در پهلوی برنامه های نظارت و ارزیابی نهاد های تحصیلی موضوع نصاب درسی از مواردی دیگری است که در برنامه های ما گنجانیده شده و قرار است تا اخیر سال ۱۳۹۸ پنجاه فیصد آن تکمیل گردد و متباقی آن الی اخیر سال ۱۳۹۹ تکمیل خواهد شد."

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی علاوه کرد که رهبری وزارت تحصیلات عالی تلاش مینماید تا صلاحیت ها و مسوولیت های بسیاری از اجراات به خود پوهنتون ها واگذار گردد و وزارت تحصیلات عالی در بخش های اساسی برای انکشاف پالیسی، نظارت از تطبیق پالیسی و ارتقای ظرفیت تمام سیستم کار نماید.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی از مسوولان نظارت و ارزیابی برنامه های فوق لیسانس خواست که فعالیت های شان را مطابق معیار های تعیین شده و با روحیه همکاری به پیش ببرند تا یک تغییر کلی در کیفیت این برنامه ها به میان آید.

سپس پوهنوال غلام دستگیر خاورین مشاور مقام وزارت در امور اکادمیک و پوهاند حاجی محمد نعیمی رئیس ارتقای کیفیت و اعتبار دهی در رابطه به ضرورت ایجاد این ریاست در ارتقای کیفی تحصیلات عالی در کشور صحبت نمودند.

در بخش دوم ورکشاپ پوهنمل دکتور محمد ولی حنیف رئیس نظارت و ارزیابی امور اکادمیک طی یک سمینار ضمن معرفی این ریاست در رابطه به پروسیجر و مراحل روند ارزیابی برنامه های فوق لیسانس و سایر موضوعات مربوط به این پروسه معلومات ارائه نمود.

قابل ذکر است که پروسه ارزیابی ۳۳ برنامه فوق لیسانس در ۱۳ پوهنتون خصوصی تا نیمه دوم ماه حوت سال جاری خورشیدی و بعدا ۴۴ برنامه فوق لیسانس در ۹ پوهنتون دولتی آغاز گردد.

# ۲۹ تن استاد جهت ادامه تحصیل در مقاطع ماستری و دکتورا عازم کشور مالیزیا شدند

استادان پوهنحی های شرعیات و حقوق پوهنتون های کشور، مقاطع ماستری و دکتورا را با معیار های جهانی فرا میگیرند.



وزارت تحصیلات عالی در یک اقدام بی پیشینه برای نخستین بار زمینه ارتقای ظرفیت استادان پوهنحی های شرعیات و حقوق پوهنتون های دولتی کشور را در مقاطع ماستری و دکتورا در یکی از پوهنتون های بزرگ کشور مالیزیا فراهم نمود.
یک گروپ ۲۹ نفری این استادان که از ۱۵ پوهنتون دولتی کشور میباشند امروز عازم کشور مالیزیا شدند. از جمله این استادان ۱۵ تن آنان در مقطع دکتورا و ۱۴ تن دیگر آنان در مقطع ماستری در پوهنتون بین المللی اسلامی مالیزیا (IIUM ) به مصرف دولت شامل گردیده اند.
پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی سرپرست وزارت تحصیلات عالی گفت که تصمیم اعزام این استادان از سوی وزارت تحصیلات عالی و موافقه جلالتماب رئیس جمهور کشور صورت گرفته و هدف آن آشنا ساختن استادان شرعیات و حقوق با معیار های حقوقی و فقهی معاصر می باشد.
سرپرست وزارت تحصیلات عالی افزود که کشور مالیزیا در قطار پیشرفته ترین کشور های اسلامی در جهان می باشد و توانسته است با تطبیق اصول دینی موفقیت های زیادی را در عرصه پیشرفت کشور شان حاصل نمایند.
به گفته استادانی که در این برنامه اعزام شده اند، کشور مالیزیا در عرصه علوم شرعی پوهنتون های با معیار های جهانی دارد و فراگیری علم در این پوهنتون ها میتواند تاثیرات قابل ملاحظه را در بخش تدریس و آموزش در پوهنتون های کشور داشته باشد.



قابل ذکر است که یک گروپ ۱۱ نفری استادان پوهنحی های حقوق و شرعیات قبلا نیز در مقاطع ماستری و دوکتورا به کشور مالیزیا اعزام گردیده و قرار است یک گروپ دیگر نیز در آینده نزدیک به مصرف دولت در مقاطع ذکر شده به کشور متذکره اعزام گردند.
این در حالیست که قبلا بورسیه های تحصیلی به پوهنتون های معتبر جهان در مقاطع ماستری و دکتورا برای استادان پوهنحی های شرعیات پوهنتون های کشور وجود نداشت و اکثرا استادان این رشته، برنامه های ارتقای ظرفیت شان را در داخل کشور پیش میبردند.

# په خصوصي لوړو زده کړو موسساتو کې د شمولیت کانکور آزموینې اخیستلو طرزالعمل امضاء شو

په خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو کې د شمولیت کانکور آزموینې اخیستلو طرزالعمل د لوړو زده کړو وزارت، د آزموینو ملي ادارې او د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو اتحادیې له خوا تائید او امضاء شو.



یاد طرزالعمل د ا.ا.ج د ریاست لوړ مقام د (۱۵۳۲) شمیرې۱۳۹۸/۶/۶ نیټې حکم پر بنسټ د شفافیت تینګولو، خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو ته د داوطلبانو جذبولو قانوني کولو په موخه او د لوړو زده کړو وزارت، د آزموینو ملي ادارې او د خصوصي پوهنتونو د اتحادیې په همغږۍ ترتیب شوی دی.

د لوړو زده کړو وزارت محصلانو چارو مرستیال پوهاند دوکتور بری صدیقي وویل چې د دې طرزالعمل په امضاء کولو سره به، تکړه داوطلبان د خپلې وړتیا په اساس په یوې شفافې رقابتي او قانونمندې پروسې کې خصوصي پوهنتونو او لوړو زده کړو مؤسساتو ته جذبیږي.

پوهاند صدیقي یاده کړه، چې د دې طرزالعمل پر بنسټ د اړوندو ادارو او پوهنتونو دندې او مکلفیتونه ځانګړي شوي دي او ورسره خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو ته د محصلانو جذبولو پروسې کې نظم او همغږۍ را منځته کیږي.



نوموړي زیاته کړه، چې د یاد شوي سند مطابق، د آزموینو ملي اداره چمتو ده، چې د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو د کانکور داوطلبانو د آزموینې اخیستلو بهیر د شفافیت او آسانه کولو په موخه هر ډول تخنیکي همکاریو زمینه برابره کړي.

د یادولو وړ دی، چې له دې وروسته به د خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو آزموینه په کال کې دوه ځلې (پسرلنی سمسټر او ژمنی سمسټر) چې یوې اصلي آزموینې او یوې متفرقې آزموینې ته شاملیږي، اخیستل کیږي.

همدا ډول خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو کې د شمولیت په منظور د کانکور په آزموینه کې د ګډون دفعات محدودیت نلري.





# د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د آغاخان بنسټ سفیرې سره ولیدل

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د آغاخان بنسټ سفیرې میرمن شهزاد ایرجي سره د یوې ناستې په ترڅ کې د افغانستان لوړو زده کړو د پیاوړتیا په موخه د یاد بنسټ د مرستو په اړه بحث او خبرې وکړې.



په دغه ناسته کې لومړی د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د هیواد د لوړو زده کړو د حالت، په دغه ډګر کې د پرمختګونو او اړتیاوو په اړه خبرې وکړې او د هیواد د لوړو زده کړو د پرمختګ په ډګر کې یې د نړیوالې ټولنې د مرستو رول غښتلی وباله.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي وویل چې د هیواد لوړو زده کړو د وروستیو کلونو په ترڅ کې د کمیت له اړخه زیات پرمختګ کړی دی او اوس د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ ټوله توجه د هیواد د لوړو زده کړو نظام کیفي پرمختګ ته اړولې ده چې د نړیوالو دوستانو مرستې دغې موخې ته زموږ په رسولو کې د اهمیت وړ دي.

پوهنمل بالاکرزي د افغانستان په مختلفو برخو کې په ځانګړې ډول د هیواد د لوړو زده کړو په سکټور کې د آغاخان بنسټ له مرستو څخه د مننې په ترڅ کې، د لوړو زده کړو وزارت د برنامو د پلي کولو په لاره کې د هغوی د زیاتې توجه غوښتونکی شو.



په بامیان پوهنتون کې د یو باب روغتون جوړول، په بدخشان او بامیان پوهنتونو کې د ټوریزم د ډیپارټمنټونو جوړول، په یو شمیر پوهنتونو کې د اړتیا وړ نویو ودانیو جوړول، په منځنۍ او سویلي آسیا کې د آغاخان له سیمه ییزو پوهنتونو سره د افغانستان پوهنتونو د تواميتونو رامنځته کول او په پوهنتونو کې د تاریخي آبداتو د ساتنې او ترمیمولو ډیپارټمنټ جوړول له هغو مواردو ګڼل کیږي چې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر یې د تطبیق په اړه د آغاخان له بنسټه د مرستې غوښتونکی شو.

وروسته د آغاخان بنسټ سفیرې میرمن شهزاد ایرجي د افغاستان په فرهنګي، ټولنیزو او اقتصادي ډګرونو کې د نوموړي بنسټ د مرستو په اړه خبرې وکړې، د افغاستان د لوړو زده کړو په برخه کې له مرستو کولو سره د خپلې علاقمندۍ په ښکاره کولو د هیواد په مختلفو پوهنتونو کې یې له بنسټیزو پروګرامونو څخه یادونه وکړه.

د آغاخان بنسټ سفیرې وویل دغه بنسټ حاضر دی چې د خپلو امکاناتو په نظر کې نیولو سره د افغانستان لوړو زده کړو وزارت سره هر ډول مرسته وکړي.

میرمن ایرجي همدا ډول د کابل جنګلک فابریکې په محوطه کې د هنري او لاسي صنایعو زده کړه ییز بنسټ د جوړولو یادونه وکړه او د لوړو زده کړو وزارت مقام څخه یې وغوښتل چې د یاد بنسټ فارغین خپلو لوړو زده کړو ته د ادامې ورکولو په موخه په لوړو زده کړو موسساتو کې جذب کړي.

په دغه ناسته کې پریکړه وشوه چې د دواړو لورو استازي په وړاندې شویو وړاندیزونو باندې کار وکړي او یو هوکړه لیک ترتیب کړي چې له لاسلیک کولو وروسته د هغه په پلي کولو کې لازم اجراآت ترسره کړي.

# کنفرانس علمی آگاهی دهی پیرامون ویروس کرونا دایر شد

کنفرانس علمی آگاهی دهی پیرامون ویروس کرونا در پوهنتون علوم طبی کابل(ابوعلی ابن سینا) دایر گردید.
این کنفرانس به هدف آگاهی دهی در رابطه به تعریف، منشا ظهور، علایم، نحوه انتقال، وقایه، کنترول و چگونگی درمان ویروس کرونا، با حضور داشت رییس و معاونان پوهنتون علوم طبی کابل، مشاور مقام وزارت تحصیلات عالی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه، رییس شورای عالی طبی، روئسای شفاخانه های کادری و استادان پوهنتون علوم طبی کابل دایر گردید.
در این کنفرانس پریزینتیشن های تحت عناوین تاریخچه ظهور، مکان پیدایش، علایم اصلی، نحوه انتقال، وقایع، کنترول و چگونگی درمان ویروس کرونا توسط استادان دیپارتمنت های مایکروبیولوژی، اندوکراینولوژی و اناتنی پوهنتون علوم طبی کابل ارائه گردید.
پوهاند دکتور وحیدالله مومند رییس پوهنتون علوم طبی کابل ابوعلی ابن سینا در رابطه به اهمیت و ضرورت آگاهی دهی پیرامون ویروس کرونا صحبت نموده، تغذیه های مناسب را در وقایه امراض گوناگون مهم خوانده گفت که تدویر این کنفرانس باعث می گردد تا مردم ما در رابطه به مرض کرونا آگاهی یافته و در مبارزه با آن تدابیر لازم را داشته باشند.
پوهنمل غلام دستگیر خاورین مشاور امور اکادمیک وزارت تحصیلات عالی با خوانش پیام پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی، از برگزار کنندگان این کنفرانس تشکری نموده از اشتراک کنندگان خواست تا آنچه را در این کنفرانس می آموزند در محیط زندگی خویش با دیگران نیز شریک سازند.



دکتور فدا محمد پیکان، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه در رابطه به پلان های وقایوی وزارت صحت در همکاری با سازمان صحی جهان اشاره نموده گفت که افراد مسلکی در میدان های هوایی و بنادر کشور موظف گردیده اند تا اشخاصی را که وارد کشور می شوند، بعد از معاینات کامل صحی به داخل هدایت نمایند.
دکتور پیکان گفت که خوشبختانه هیچ افغانی در خارج از کشور به ویژه در کشور چین با مرض کرونا مصاب نگردیده اند. وی از استادان پوهنتون علوم طبی خواست تا در قسمت اطلاع رسانی تلاش نمایند و مردم را در زمینه اطمینان دهند.
قابل ذکر است که ویروس کرونا که در شهر ووهان کشور چین شیوع یافته تا کنون جان ده ها تن را گرفته و در ۱۳ کشور دیگر نیز سرایت نموده است.
در همین حال ۴۰ تن از استادان و محصلان نیز در شهر یاد شده در حال قرنطین بسر می برند.
پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی سرپرست وزارت تحصیلات عالی، نگرانی شان را از بابت مشکلاتی که محصلان یاد شده با آن مواجه گردیده اند، ابراز داشته و طی یک نامه رسمی از مقام وزارت امور خارجه کشور خواستار رسیدگی به آنان گردیده است.



وزارت امور خارجه در پاسخ به این نامه ضمن ابراز اینکه خوشبختانه تا کنون هیچ تبعه افغان در کشور چین با ویروس کرونا مصاب نگردیده است، از اقدامات لازم که از طریق سفارت جمهوری اسلامی افغانستان در چین صورت گرفته خبرداده و اطمینان داده است که موضوع به صورت جدی و همه جانبه تحت مراقبت بوده و تدابیر لازم در زمینه اتخاذ شده است.